


## ژان پل سارتر:

دی فرانسوي فیلسوف، ډرامه لیکونکی، ناول او رومان لیکونکی، ژوند لیکونکی، ادبي کره کتونکی او سیاسي فعال وو، چې د جون میاشتې په (۲۱)مه پر (۱۹۰۵)زېږدیز کال د فرانسې په پاریس کې زیږېدلی دی. سارتر د اگزیستانسیالیسم، وجودی فلسفې او ښکارندپوهه او د پدیدو او پیښو پېژندنو په برخه کې یو له مهمو شخصیتونو څخه وو، او د فرانسي د شلمې پیړۍ د فلسفې او مارکسیسم یو له غوره څېرو څخه ګڼل کیږي.

سارتر ډېر ښکلي رومانونه، فلسفي ډرامې، سیاسي، ادبي او تحقیقي مقالې کښلي دي او دی د ازادۍ د لارې یو هڅاند مبارز وو، چې په شلمه پیړۍ کې هیڅ یو فیلسوف د هغه په اندازه شهرت ته ونه رسید.

ژان پل سارتر د ادبي او څېړنیزو کارونو تر څنګ هغه څوک وو، چې د ژوند د وروستیو شیبو پورې په سیاسي، کارگري او اعتصابي مبارزو بوخت وو، او د پانگوال نظام خلاف یې له هر کارگري خوځښت او حرکت سره مرسته کوله. تر دې چې ده به په خپله په هر هغه اعتصاب او لاریون کې برخه اخیسته، چې د کارگر په ګټه او د پانگوال نظام پر ضد به وو.

ژان پل سارتر د مرگ تر ورځې واده ونکړ، خو له «سیمون دوبورا» سره یې، چې د فرانسې یو تکړه لیکواله او عالمه وه، پوره پنځوس کاله تیر کړل، چې ملګرتیا یې ډیره نږدې وه.

سارتر ډیر اغېزمن او ارزښتمن نښیرونه(آثار) کښلې دي، چې تر ټولو مشهور اثر یې د (هستي او نیستي) په نوم دی. سارتر ته پر (۱۹٦٤)ز کال کې د ادبیاتو نوبل جایزه ورکړل شوه، خو هغهٔ د دې جایزې له منلو څخه انکار وکړ.

ژان پل سارتر د اپرېل میاشتې په(۱۵)مه پر (۱۹۸۰)ز کال کې له دې فاني نړۍ څخه سترګې پټې کړې دي.

**دا هم د ژان پل سارتر کڼ شمېر ژورې او اغېزناکې ویناوې او خبرې:**

- زه هغه وخت آزاد یم چې، په نړۍ کې ټول خلک آزاد شي. تر څو چې، نړۍ کې یو فرد هم آزاد نه وي آزادي شتون نه لري.

- خندا باید وساتو، په خندا لیکل وکړئ.

- تر ټولو غمجن هغه څوک دی چې تر ټولو زیات خندا کوي.

- ټول وخت ته اړتیا لري. انسان نباید مخکې تر دې چې وپوهېږي څه و وایي، پابلې ته ورسېږي.

- کمزوري اراده لرونکي خلک، تل د معجزو او حیرانتیاوو پیښو په تمه وي، خو پیاوړي خلک د معجزو او حیرانتیاوو پیښو جوړونکي وي.

- کله چې بډایان جنګ او جګړه پیلوي، دا بې وسه او غریبان دي چې په کې مري.

- تر زړه هیڅ څیز هم ډېر ساده نه ماتېږي.

- انسان محکوم دی چې خپلواک او ازاد واوسي، ځکه نړۍ ته په راتګ د خپلو کارونو پازوال(مسوول) وي.

- له هغه شیبې څخه چې تاسو د تل پاتې کیدو خوب له لاسه ورکړئ، ژوند به نور مانا ونلري.

- د وګړیو له پربکړې پرته، د سبا ورځې تاریخ اټکولای نه شو، که یو ملت د فاشیزم نړۍ لید ته غاړه کېږدي، ګانده (راتلونکې) به یې له فاشیزم پرته بل څه نه وي.

- خلک د هر څه په اړه خبرې کوي، په ځانګړې توګه د هغه څه په تړاو چې دوی یې په اړه هیڅ نه پوهېږي.

- بشر هیڅ هم نه دی، خو که ځان نه یو څه جوړ کړي.

- نبوغ، د تفکر جوهر دی.

- تفکر د انسان د هستۍ جوهر دی.

- څومره چې د یو څه له لاسه ورکول موږ ته خپګان راکوي، د هماغه شي په درلودلو کې د خوښۍ احساس نه کوو... او دا د انسان فطرت دی!

- هرڅوک وخت ته اړتیا لري. یو څوک باید دې پایلې ته ونه رسیږي مخکې لدې چې پوه شي هغه څه وایي.

- مه پرېږدئ چې بچیان مو وژاړي، ځکه باران هم غنچې له منځه وړي.

- د یو کس نن ورځ به، هرومرو پرون شي، خو دا ممکنه ده چې سبا به هیڅکله نن نه وي.

- یوه فلسفه چې په احتمالاتو تکیه کوي او په هیڅ حقیقت پورې تړاو نلري د ماتې او ناکامۍ سره مخ کیږي.

- انسان په ازادۍ محکوم دی.

- انسان د ارزښتونو پنځګر دی.

- انسان بل څه نه دی خو هغه څه چې هغه له ځانه جوړوي.

- تر څو چې زه ډاډه یم  زه به هیله او امید له لاسه ورنکړم.

- کله کله زه اندو فکر کوم چې زه د خپل ژوند په اړه په هر څه، چې پوهیږم ما یوازې په کتابونو کې زده کړل.

- موږ د هغه خلکو قضاوت نه شو کولای، چې موږ یې خوښوو او په موږ ګران دي.

- ډارونکی هغه څوک دی، چې له ځانه یې  ډارونکی جوړ کړی دی، اتل او قهرمان هغه څوک دی، چې له ځانه یې اتل جوړ کړی دی.

- خلک د هر څه په تړاو خبرې کوي، په ځانګړې توګه هغه څه چې دوی یې په اړه هیڅ نه پوهیږي.

- موږ یوازې هغه څوک کیدی شو چې موږ په رښتیا سره یوو، موږ باید د هغه څه له منلو څخه انکار وکړو، چې نورو موږ  جوړ کړي یوو او د هغې پر وړاندې باید ودریږو.

- ځینې وختونه تاسو باید د خپل یوازیتوب لپاره  شاوخوا ته یو دېوال جوړ کړئ، نه د نورو د ګوښه کولو لپاره، خو وګورئ څوک به هغه دېوال مات کړي چې تاسو وګوري.

- لکه هره خبره چې له خولې څخه راوتلې پایلې لري. هره چوپتیا هم همداسې ده!

- په ژوند کې ځينې وختونه اړين دي، چې ځينې خلک له لاسه ورکړئ، د ځان موندلو لپاره.

- د خلکو زړونه ماتول هيڅ ستونزمن او مشکل کار نه دی او هر څوک يې کولی شي. هغه څه چې ستونزمن دي د زړونو ماتول نه دي.

- نه موږ کولی شو مړ شو، نه موږ ژوند کولی شو، نه موږ کولی شو يو بل وګورو، نه موږ کولی شو يو بل پرېږدو، موږ په يو عجيب اکر او حالت کې راګير يو.

- هغه څه چې يو څوک کمزوری کوي د تيښتې يا تسليميدو عمل دی.

- ګيله او شکايت کول بې مانا دي. دا بهرني عوامل ندي چې زموږ احساسات، زموږ ژوند او زموږ حقيقت جوړوي.

- فاشيزم د قربانيانو د شمير له مخې نه، بلکې د هغوی د وژلو د څرنګوالي له مخې پېژندل شوی دی.

- که غواړې چې د خپل ژوند په ارزښت پوه شې، يو ځل يې په خطر کې واچوه!

- سياست يو علم دی. تاسې کولای شئ ثابت کړئ چې حق ستاسو سره دی او نور په تېروتنه کې دي.

- کله چې موږ يوازې يوو، موږ د ملګرو په لټه کې يوو. کله چې موږ وموندل، بيا د هغوی نيمګړتياوې لټوو. خو د هغوی له لاسه ورکولو وروسته موږ  د هغوی د يادونو په لټه کې يوو.

- کله چې شتمن جګړه کوي، دا بېوزله او غريب دی چې مري.

- مرګ زما د ژوند دوام دی خو له ما پرته.

- تاريخ يو بې چلوونکی موټر نه دی او يوازې خپلواکي نه لري، بلکې هر څه چې موږ وغواړو، تاريخ به هماغه شي.

***

**په درنښت او ادبي مينه: انجنير عبدالقادر مسعود**